د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

# پرمختیا

اوونیزه

۱۱۶ مه گڼه • پنجشنبه • د سلواغه ۳مه • ۱۳۹۸



۹

## په ۱۳۹۹ کال کې یونیسف کلیوالي سیمو ته د پاکو اوبو رسولو په برخه کې د شا وخوا ۱۰ میلیونه ډالرو مرسته کوي



۱۱

په پکتیا کې د ۱۷ میلینو نه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو یوه لمریزه شبکه‌گټې اخیستنې ته وسپارل شوه



۶

د مالیاتو د ورکړې اوونۍ نمانځغونډې په ویاړ جوړ شوي نندارتون کې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروگرام دگټه اخیستونکو گډون

# تیره اونۍ په پنځو ولایتونو کې د پنځو ښوونځیو جوړولو کار پیل شو

۳/ سلواغه/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروگرام د اقرا پروژې تر سیوري لاندې په پنځو ولایتونو کې د پنځو ښوونځیو جوړولو کار پیل شو. دا ښوونځي د بلخ په کلدار ولسوالۍ، د ننگرهار په کوز کونړ، د بادغیس په قادس، د زابل په نوبهار، او د هرات په کرخ ولسوالیو کې جوړېږي. دا ښوونځي به ۱۰ یا ٦ ټولگي، تشنابونه او د څښاک د پاکو اوبو ځاگانې ولري او د دې پروژو په بشپړتیا سره به ۳ زره زده کونکي د ښوونې او روزنې ور چاپیریال بیامومي.









# په بدخشان کې د څه باندې ۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د یو کانال د محافظوي دیوال د جوړولو کار بشپړ شو

۲۸/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د څه باندې ۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د یو کانال د محافظوي دیوال د جوړولو کار د بدخشان ولایت د تیشکان ولسوالۍ اړوند د ارغندکان کلي د پراختیایي شورا له خوا بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. د دغې پروژې اوږدوالی ۱۰۳ متره او لوړوالی یې ۳ متره دی چې د پروژې د جوړولو په بهیر کې ماهرو او غیرو ماهرو کارګرو ته ۱۳۲٤ کاري ورځې رامنځته شوي او د کلي ۲۷۲ کورنۍ به ترینه ګټه پورته کړي. د یادونې وړ ده چې د نوموړي کانال په ګټې اخیستنې سره به د کلیوالو ۱۰۰ جریبه ځمکه خړوبه شي.





# په بغلان کې پر ۳٦ اړو کورنیو خوراکي توکي وویشل شول

۲۸/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون پروګرام د غذایي بانکونو له لوري د بغلان ولایت د مرکز پلخمري په خنجراباد کلي کې پر ۳٦ اړو کورنیو خوراکي توکي وویشل شول.

په دې مرستو کې ۵۰ کیلو غنم، ۵ لیتره غوړي او ګوګرد شامل وو.

هیره دې نه وي چې تر اوسه په بغلان کې ٤۳۳ د غذا بانکونه جوړ شوي دي.



# په فراه ولایت کې د ٦٨٠ کورنیو لپاره د څښلو پاکې اوبه برابرې شوې

۲۸ مرغومي ۱۳۹۸

د کليو بيارغونې او پراختيا وزارت، په کليوالي سيمو کې د اوبو رسولو او حفظ الصحې د پروګرام له لوري د فراه ولايت د مرکز په دار اباد بالا کلي کې د اوبو رسولو يوه لمريزه شبکه جوړه او د خلکو ګټې ته وسپارل شوه.

د څښلو د اوبو په دغه شبکه باندې څه باندې ۱۰ میلیونه افغانۍ لګښت راغی چې د یونیسف د ادارې له خوا ورکړل شوې. ددغې پروژې په تکمیلیدو سره د شاوخوا ٦٨٠ کورنیو لپاره د څښلو پاکې اوبه برابرې شوې.

دغه پروژه کې د ۸۰ مترو په ژوروالي سره د یوې ژورې څاه کیندل، د ۱۰۰ متر مکعب په ظرفیت سره دیوې ذخیرې جوړول، د ۲۰ کیلو مترو په اوږدوالي د پایپونو د شبکې غځول، د سولري تختو (سولرونو) او ۵۸۰ متر بکسونو او نل بندانو نصبول شامل وو.

# په بدخشان کې د څه باندې ۱.۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د یو کانال د جوړولو کار بشپړ شو

۲۸/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کليو د بيا رغونې او پراختيا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د څه باندې ۱.۸ ميليونه افغانيو په ارزښت د اوبو لګولو د يو کانال د جوړولو کار د بدخشان ولايت د اشکاشم ولسوالۍ اړوند د سرشخ کلي د پراختيايي شورا له خوا بشپړ او ګټې اخيستنې ته سپارل شوی دی. د دغه کانال مجموعي اوږدوالی ۱۱۰۰ متره دی چې د پروژې د جوړولو په بهير کې ماهرو او غيرو ماهرو کارګرو ته ۱٦۹۹ کاري ورځې رامنځته شوي او د کلي ۱٦۱ کورنۍ به ترينه ګټه پورته کړي. د يادونې وړ ده چې د نوموړي کانال په ګټې اخيستنې سره به د کليوالو ۱۰۵ جريبه ځمکه خړوبه شي.



# په کندهار کې د څه باندې ۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو لګولو د کاریز پروژه بشپړه شوه

۲۹ / مرغومي / ۱۳۹۸

په کندهار ولایت کې د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام له لوري د اوبو لګولو د کاریز پروژه چې څه باندې ۵ میلیونه افغانۍ پرې لګیدلې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

د دغې پروژې په لړ کې د اوبو لګولو د کاریز څاه ګانې، د۲۰٦ مترو په اوږدوالي د اوبو لګولو کانال او د اوبو زیرمتون د یاد ولایت د تخته پل ولسوالۍ په برج کلي کې په پاخه ډول جوړ شوي دي.

د یادې پروژې د تطبیق پر مهال چې له ملي بودیجې تمویل شوې ٤٨٢٨ کاري ورځې رامنځ ته شوې او د سیمې ۲۵ جریبه کرنیزه ځمکه یې د اوبو لګولو تر منظم پوښښ لاندې راوستې چې ٤۲۷ ځایي اوسیدونکي به ترې ګټه پورته کړي.





# تکمیل کار ساخت یک کاریز به ارزش ۲.۵ میلیون افغانی در میدان وردگ

۲۸ جدی ۱۳۹۸

کار ساخت ۲۱۲ متر کاریز به ارزش ۲.۵ میلیون افغانی در روستای بسراق احمدزی میدان شهر، مرکز ولایت میدان وردگ از سوی دفتر انسجام برنامه‌های ساحوی وزارت احیا و انکشاف دهات تکمیل و به بهره برداری سپرده شد.

این پروژه شامل حفر ده حلقه چاه و یک چک دیم نیز می‌شود که با تکمیل آن صدها جریب زمین زراعتی تحت پوشش منظم آبیاری قرار گرفته است.



# د مالیاتو د ورکړې اوونۍ نمانځغونډې په ویاړ جوړ شوي نندارتون کې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام د ګڼه اخیستونکو ګډون

۲۸/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د مالیې وزارت په دې موخه چې د مالیاتو د ورکړې قانون په افغانستان کې حاکم او د هېوادوالو ترمنځه کلتور وګرځي، د هېواد په کچه د خصوصي سکتورونو د تولیداتو او محصولاتو لپاره درې ورځنی نندارتون د کابل په بادام باغ کې جوړ کړ.

په دې نندارتون کې چې د مالیاتو د ورکړې اوونۍ تر نامه لاندې د مالیې وزارت په کوربه توب جوړ شوی و، د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام یو شمېر ښځینه متشبثینو هم خپل لاسي تولیدات او خوراکي توکي نندارې او پلورنې ته وړاندې کړل.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت محترم وزیر پوهندوي مجیب الرحمن کریمي له مالیې وزارت څخه د دې نندارتون د جوړولو په مناسبت د مننې ترڅنګ وویل: « افغانستان د یو داسې هېواد په توګه چې د ودې په حال کې دي، له بل هر وخت څخه د مالیاتو د منظمې ورکړې سیستم ته اړتیا لري، د مالیاتو د ورکړې اوونۍ نمانځل او د داسې نندارتونونو جوړول په دې لار کې د دې سترې موخې په ترلاسه کولو کې ډېر ګټور دي.»

د مالیې وزارت سرپرست وزیر ښاغلي محمد همایون قیومي، د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزیر ښاغلي نصیر احمد دراني، د سوداګرۍ او صنایعو خونو مرستیال محمد یونس مومند او د صنایعو او معادن خونې رییس شېر باز کمین زاده هم په دې مراسمو کې حضور درلود، چې د مالیاتو د ورکړې د منظم سیستم په ګټورتیا یې د غونډې برخوالو ته ویناوې وکړلې او د هېواد په اقتصادي وده کې یې د مالیاتو ورکړه اغیزمنه یاده کړله.





# په لغمان کې له ۸۵۰ بېوزله کورنیو سره د خوراکي توکو مرسته وشوه

۲۹/۱۰/۱۳۹۸

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د لغمان د قرغیو ولسوالۍ اړوند ۸۵۰ کورنیو سره د څه باندې درې میلیونه افغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرسته وشوه.

په دغومرستو کې اوړه ، نرۍ وریجې ،غټې وریجې ، غوړې، لوبیا، دال، بوره چاې ،صابون اوکمپلې شاملې وې.



# د لغمان په مرکز کې د دوه میلیونه افغانیو په ارزښت د ۲۲۰ متره ګبیون ډوله دیوال د جوړولو چارې رواني دي

۲۹/۱۰/۱۳۹۸

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د سیمه ییز پروګرام له لوري د لغمان مرکز په حیدرخانې سیمه کې د دوه میلیونه افغانیو په ارزښت د ۲۲۰ متره ګبیون ډوله دیوال د جوړولو چارې رواني دي، چې په ټاکلي وخت به یې چارې بشپړې شي.

د دې پروژې په بشپړیدو سره به د سیمې ګنې ودانۍ او زیاته کرنیزه ځمکه د سیلابونو له خطره خوندي شي.



# په بغلان ولایت کې د څه باندې ٦٧٦ زره افغانیو په لګښت د ١٤٠٠ متره سړک د بیا رغونې کار روان دی

۲۹/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام دڅارنې، ساتنې او ودانۍ له پاره د پراختیایي نغدي وجهې پروګرام (MCCG) له لوري د څه باندې ٦٧٦ زره افغانیو په لګښت د بغلان ولایت د پلخمري ولسوالۍ دعیسي خیلو کلي د پراختیایي شورا لخوا پریوه سړک باشندې د شګې اچولو، ډکولو، د ځینو برخو د پراخولو اوهم د ۷۰۰ متره سړک د شګې اچولو کار روان دی. دغه سړک ټولټال ١٤٠٠متره اوږدوالي ۳ عشاریه ۵ متره پلنوالي لري . د نوموړي سړک د کار په بهیر کې به ١١٦٣ کاري ورځې رامنځته شي او د سړک کار تر بشپړېدو وروسته به ۸۲ کورنۍ ورنه ګټه واخلي.

# په میدان وردګو کې د څه باندې ۳ میلیونه افغانیو په لګښت ۷ کیلومتره سړک ګټې اخیستنې ته وسپارل شو

۲۹/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیوبیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي لار جوړولو پروګرام له لوري، د میدان وردګو ولایت، نرخ ولسوالۍ له سره پله بیا تر تیتمور سیمې پورې د اووه کیلومترو په اوږدوالي یوه سړک باندې د کربړ اچونې چارې بشپړې او د دې ریاست د تخنیکي ټیم تر څارنې او لیدنې وروسته ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

د یاد سړک پر جوړولو درې میلیونه، یو لک، ۱۰۰ افغانۍ لګښت شوي، چې د کلیو دبیارغونې او پراختیا وزارت په غوښتنه د مالیې وزارت له لوري ورکړل شوي دي، چې لس سلنه ونډه د سیمې پرمختیایي شورا هم پکې اخیستې ده.

د یادولو وړ ده چې په دې سړک سره د سیمه ییزو خلکو تراسپورتي ستونزې تر ډیرې کچې هوارې شوې.





# په ۱۳۹۹ کال کې یونېسف کلیوالي سیمو ته د پاکو اوبو رسولو په برخه کې د شا وخوا ۱۰ مېلیونه ډالرو مرسته کوي

۱۳۹۸ / دلو / ۱

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهندوي مجیب الرحمن کریمي، نن سه شنبه د افغانستان لپاره د یونېسف نړیوالې ادارې نوي ټاکل شوي رئیس ابوبکر کامپو سره ولیدل.

په پیل کې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر د یونېسف نوي رئیس ته د پوره همکارۍ او دګډ کار لپاره د اغېزمنو پروګرامونو ډاډ ورکړ.

ښاغلي کریمي زیاته کړه، کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت توانیدلې چې د یونېسف په ملاتړ روان کال له اوه سوه زره زیاتو هېوادوالو ته د پاکو اوبو اسانتیا برابره کړي.

وریسې د ملګروملتونو له ماشومانو څخه د ملاتړ صندوق رئیس ابوبکر کامپو د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت له مؤثرو او باکیفیته فعالیتونه مننه او ستاینه وکړه چې له امله یې د مرستو ډېرولو او هراړخیز ملاتړ ژمنې تازه کړې.

په دې لیدنه کې د افغانستان لپار د یونېسف ادارې رئیس له کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت سره په ۱۳۹۹ کال کې کلیوالي سیمو ته د پاکو اوبو رسولو لپاره د لس مېلیونه ډالرو مرستې ژمنه وکړه.



# اروزګان کې د څه باندې ۱.۸ میلیونه افغانیوپه لګښت د څښاک د پاکو اوبو د یوې شبکې جوړولو کار روان دی

۳۰/ مرغومي/ ۱۳۹۸

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام له لوري د څه باندې ۱.۸ میلیونه افغانیو په لګښت د څښاک د پاکو اوبو د یوې شبکې د جوړولو کار د ارزګان ولایت د ترینکوټ ولسوالۍ اړوند د محمد عیسي سفید خار کلي د پراختیایي شورا له خوا روان دی.

دغه شبکه د ٦۰ مترو په ژورتیا یوه څاه او د ۲٤ زره لیتره اوبو په ظرفیت یوه زیرمه لري چې د نوموړې شبکې د کار په بهیر کې به ماهرو اوغیرو ماهرو کارګرو ته ۱۰۳٤ کاري ورځې رامنځ ته شي او تر بشپړېدو وروسته به ۷۰ کورنۍ ترینه ګټه پورته کړي.

# جریان کار ساخت یک کانال آب زراعتی و دیوار محافظوی آن به ارزش ۱.۸ میلیون افغانی در بلخ

۳۰ جدی ۱۳۹۸

کار ساخت ۱۲۰ متر کانال آب زراعتی و ٦۰ متر دیوار محافظوی آن به ارزش ۱.۸ میلیون افغانی از سوی برنامه‌ی ملی میثاق شهروندی وزارت احیا و انکشاف دهات در روستای آغابایی ولسوالی بلخ ولایت بلخ ۷۰ درصد پیش رفته است.

در جریان کار تطبیق این پروژه ۱٤۲۷روز کاری برای کارگران فنی و غیر فنی ایجاد می‌شود و پس از تکمیل شدن آن، ۳۰۰ جریب زمین زراعتی تحت پوشش منظم آبیاری قرار گرفته و ٦٥ خانواده از مزایای آن مستفید خواهند شد.





# په پکتیا کې د ۱۷ میلینو نه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو یوه لمریزه شبکه گټې اخیستنې ته وسپارل شوه

۱/سلواغه/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو او حفظ الصحې پروگرام د پکتیا ولایت د میرزکې ولسوالۍ په اندوام کلي کې د یوې لمریزې شبکې په جوړولو سره ۲۰۰ کورنیو ته د څښلو پاکې اوبه برابرې کړې. د اوبو رسولو په دغه شبکه باندې ۱۷ میلیونه افغانۍ لگښت راغلی چې په افغانستان کې د یونیسف د ادارې لخوا ورکړل شوې. په دغه پروژه کې د یوې ژورې څاه کیندل، د ۳زره متره په اوږدوالي د پایپونو د شبکې غځول، د یوې کانکریټي ذخیرې جوړول، د ۲۷ لمریزو تختو (سولرونو)، پمپ او نل بندانونو نصبول شامل وو. یاده شوې پروژه د رگ اندوام کلي د پرمختیایي شورا لخوا په پینځو میاشتو کې تطبیق شوه.

# په کونړ ولایت کې د ۴.۹ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو یوه شبکه گټې اخیستنې ته وسپارل شوه

۳۰ مرغومي ۱۳۹۸

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو او حفظ الصحې د پروگرام له طریقه د یونیسف اداري په ۴.۹ میلیونه افغانیو مالي مرسته د کونړ ولایت داسمار ولسوالۍ په سویرداگ کلي کې د اوبو رسولو یوه لمریزه شبکه جوړه او د خلکو گټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

د اوبو رسولو دغې شبکې ۲۸۰۰ متره اوږدوالی، د ۳۰ متر مکعب په ظرفیت سره د اوبو یوه زېرمه او ۲۳ نل بندانونه درلودل.

د یادې شوې شبکې په جوړېدو سره د څه باندې ۳۰۰ کورنیو لپاره د څښلو پاکې اوبه برابرې شوې او د پروژې د جوړولو چارو د خایي خلکو لپاره ۱۲۰ کاري ورځې ایجاد کړې.

د څښلو د اوبو دغه شبکه د سویر داگ پرمختیایي شورا پرمټ تطبیق شوه.





# په لغمان کې له ۸۵۰ اړو کورنیو سره د څه باندې ۳.۲ ملیونه افغانیو په ارزښت د خوراکي توکو مرسته وشوه

۱/ سلواغه/ ۱۳۹۸

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام د غله جاتو د بانک له لوري له ۸۵۰ اړو کورنیو سره د څه باندې ۳.۲ ملیونه افغانیو په ارزښت د لغمان ولایت د قرغیو ولسوالۍ د ۴۸ پراختیایي شوراګانو لخوا د خوراکي توکو مرسته وشوه. دغه مرستې د ولسي تړون د ټولنیز ګډون لپاره د مالي وجهي پروګرام (SIG) لخوا چې د خلکو ونډه هم پکې وه، کلیوالو ته ورکړل شوې چې اوړه، غوړي، لوبیا، دال، بوره، صابون، کمپلې، وریجې او چاي پکې شامل وو.

# په جوزجان کې د کوچیانو د ایلبند له ۱۴ پراختیایي شوراګانو سره د ۵۰۰ بوجیو غنمو مرسته وشوه

۲/ سلواغه/۱۳۹۸

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام د غله جاتو د بانک له لوري د جوز جان په ولایت کې د کوچیانو له ۱۴ شوراګانو سره د کوچیانو د ایلبند د پراختیایي شورا لخوا د غنمو د ۵۰ کیلویي بوجیو ۵۰۰ بوجۍ مرسته وشوه. دغه مرسته د جوزجان ولایت د حوادثو ریاست له لوري د خوراکي توکو بانګونو ته ورکړل شوې وه. د بې روزګارۍ او موسمي لوږې په موده کې د کلیو اړو کسانو ته د غله جاتو بانکونو له لارې مرسته، دشتمنو خلکولخوا د بېوزلو کسانو دلاسنیوي فرهنګ خپروي.

